# د ستورو کاروان

## که راځي

### عزيزالله عزيز

اې زما د زړه سلطانه که راځې
کوچ مې کېږي له جهانه که راځې
عزرايل راته ولاړ دی روح مې اخلي
بيلوي مې نن له تانه که راځې
زنکدن کې مې خوله وخت په وخت وچيږي
او به غواړم مهربانه که راځې
اخرې ديدن دی بيا به ارمان وکړې
اوس مې اوګوره جانانه که راځې
يو ساعت مې ننداره په مينه وکړه
بيا ليدل نه دي اسانه که راځې
تورو خاورو ته به ژاړې زه به مړيم
ډېر به ګرځې سرګردانه که راځې
لاس او پښې ارام د خپله لاسه سم کړه
روح مې خيژي قدردانه که راځې
پټوي راته سپين مخ په کفن باندې
جنازه مې شوه روانه که راځې
اخر وخت دی ما په تورو خاورو سپاري
د لحد غاړې له ګرانه که راځې
خپل خپلوان مې راستانه عزيزالله شو
شوم د عمر بنديوانه که راځې

***

## غزل

### زاهد افغان

مينه ښه ده خو هجران د سړي زړه خوري
ډېر غمونه او خفګان د سړي زړه خوري
پسرلي خو د ګلونو ډالۍ راوړي
خوښ مې نه راځي خزان د سړي زړه خوري
بس خبره مختصره غونډې ښه وي
چې ډېره اوږد شي داستان د سړي زړه خوري
نوم يې خوږ دی خو بېلتون يې لکه زهر
مرور چې شي جانان د سړي زړه خوري
له آسمانه چې وريږي ابادي ده
چې له سترګو وي باران د سړي زړه خوري
محبت به پکې ځنګه وده وکړي
دا بې شرمه رقيبان د سړي زړه خوري
په نيمګړې دنياګۍ زاهد افغانه
پوره کېږي نه، ارمان د سړي زړه خوري

***

## غزل

### شمس

نه پوهيږم رانه شوې څه ګناه ده
چې له ملکه مې جوړه شوې کربلا ده
په هر ځای چې قدم کږدم پښې مې سوځي
د دوزخ پشان سره شوې دا دنيا ده

ګـران وطـن کـې نـه اختـر نـه خوشـحالي شـته
پـه هـر کلـي چـې درځـم تولـه ژړا ده
پـه خولـه هـيڅ ويلـی نـه شـم چـې دا ولـې
رانـه شـوي څـه ګناه او څـه خطـا ده
څـه د پاسـه درې لسـيزې ډزاو ډوزدی
زمـونږ لـه ملکـه سـوله تلـې بلـه خـوا ده
د جـامع فکـر خاونـد پـه مـونږ کـې نشـته
پيـدا کـړې رب د هـر مـرض دوا ده
خپـل وطـن سـره پـه يـوه فکـر کـې نـه يـو
مسـلط ځکـه پـه مـونږه دا بـلا ده
مبلمنـه مـې د بـلا کـړې ربـه کـور کـې
کـه سـپرلی دی کـه اختـر دی کـه خنـدا ده
زمونږ په ګران هېواد کې نشته بل خوا تلې که
سـپرلی دی، کـه اختـر دی کـه خنـدا ده
خدايـه تـه يـې کـړې زمـوږ د وطـن لـرې
ډزاو ډوزدی کـه خفګـان دی کـه ژړا ده
ربـه تـه زمـونږ وطـن کـې قـراري کـړې
د افغانـانو دا غوښـتنه دا دعـا ده
(شـمس) زمـونږ وطـن زمـونږ پـه لاس ورانـېږي
ګوتـه نيسـو بـل تـه خـو ګناه ځما او ستـا ده
***

## غزل

**عرفان الله کوټوال**

راځـه، راځـه هغـه زړه د بـره لاړنګـه نـه ده
د لاس سرونو ته مې شناخته فی الحال دنګه نه ده
خيـر دی غربت مې لا غيـرت راخملولی نه دی
هرڅـه پـه نيـاز دی دازل برخـه مې تنګـه نـه ده
پـه دسـترخوان کـې پـلاؤ نـه لـرم خـو دالرمـه
ستا پـه راتلومې تندی خاندي ګنجه ټنډه نه ده
دلتـه بـه واوري پښـتنونه د پښـتو خبـرې
کيسـه شـروع ده بيـانېږي نـوره ځنـډه نـه ده
فقـط مـرويس او ملالـۍ يـې ګورتـه ورسـول
هغه ژوندۍ د شملو مور ده پښتو شنډه نه ده
دا د کوپړو پـه سر ځرخيږي پل يې نه درېږي
څـه د وربشـو او جـوارو دوړو ژرنـده نـه ده
د پښـتو دومـره مانـا يـوه ژبـه کـې هـم نشـته
پـه مخـامخ يـې سـروهي د فريـب کنـده نـه ده
کوټوال خو ځکه اندېښمن يم چې پښتون ويده دی
د غلـيم دام رانـه چـاپير دی دا ملنـډه نـه ده
***

## غزل

**ګلرنګ کوچوان**

ښکـلـــه ګرانـــه زنـــدګي ده
ســـرګردانه زنـــدګي ده
چاتـــه حـــال ويلـــي نـــه شـــم
پريشـــانه زنـــده ګـــي ده
کـه هـر څـومره پـه کـې خـوښ يـې
خـــوروا نـــه زنـــده ګـــي ده
سـخت منـزل دی خـدا يـه خيـر کـړې
بـــې جانانـــه زنـــدګيي ده
هرســـړي ترېنـــه کوچـــوان دی
ده کوچوانـــه زنـــده ګـــي ده
***

# غزل

## څارنوال حمید الله احمد

د اروانباد حاجي صاحب امان الله په ویر

ګوره ستا دیدن ته ټول یاران راغلي دي
بیا دا ستا مسکن ته ټول خپلوان راغلي دي
تا زموږ سره وداع کړه رانه لاړې
ستا دیدن ته په تلوار دوستان راغلي
چم ګاونډ ژړېږي ستا اخلاق پسې
ګاونډیان هم دي بچیان راغلي دي
صبر دې نصیب شو تر اخیره ته صابر شوې
ستا مقر ته ګوره خاموشان راغلي دي
ستا د طریقت ورونه ټل تاته دعاګوی دي
ستا مرقد ته ګوره فقیران راغلي دي
ورشه ای حمیده دې مرقد باندې تسل وکړه
وای فداې چې ستا خاصان راغلي دي

***

# نظم

## عبید الله نادر

هلته روانه کهکشان په لور تحقیق فلسفه
د کائناتو د تسخیر ته دې بشر په تمه
خلک د لوږې له قحطۍ او خپلې ګیډې په غم
دلته د فکر خاوندان دي، په خپل ځان کې اخته
هلته د قام افتخار، په آسمانو ختل دي
د معرفت په رڼا او حقیقت خوا ته تلل دي
هلته پریشانه غمخواران کړل، مستقبل د بشر
دلته زمونږ افتخار د مکتبو سیځل دي
تولو واخیسته، فضا ته کلک ګامونه
مونږ تراوسه د غفلت وهو خوبونه
نو راځئ چې د علمي نرۍ د پاره
سره یو شو، د وحدت ورکړو لاسونه
ډېر مشکل دي، آسمانو ته رسیدل
یا په رمز د کائناتو پوهېدل
خو د علم په پوړیو دي آسانه
د خاورین ځمکې نه ستورو ته ختل
په کلونو مې د جهل سره جنګ دی
له ازله مې دا فن او دا فرهنګ دی
جهالت کې او سېدل، روښانه دور کې
تل تر تله بشریت د پاره ننګ دی
هلته د علم بیړی د معرفت خوا ته ځي
د علم و فن په رڼا مخ په وحدت خوا ته ځي
دلته زمونږ، امیدونو ارمانو قافله
تور تمو کې ده روانه، جهالت خوا ته ځي
قافله د بشر ښکته شوه، سپوږمۍ کې
مونږ تراوسه یو، لا پاتې تروږمۍ کې
مدنیت انګازې لاړې کهکشان ته
مونږ مشهوره د نړۍ شو، نادانۍ کې
خوک په فکر کې د چور او د غارت
خوک په سرلري نشې د امارت
د ایمان ننبې په چا کې نه ښکاریږي
چې کمزوری، په دې ښار دی دیانت

***

# جمال د عرفي په غونډۍ

## مطیع الله تراب

زما د غم کیسه به کله خاتمې ته رسي
تار تار ګریوان به مې یار کله ننداري ته رسي
د اوښکو سترګې شولې وچې لاړې تشې ښکاري
جانان به کله د ګریوان تشې کوڅې ته رسي
نن مې غمونه له غمونو نه شرمیږي خدایه

نن مې سلګۍ سلګۍ ژوندون بيا جنازې ته رسي
اختر به هر کال يې زه لمانځمه د غم په اوښکو
دا خوشالي کله زما د غم کيسې ته رسي
محراب شهيد شو د جومات زړه له غمه پرک وچوديد
د کوم ظالم له لاسه ورخ بې وخته شپې ته رسي
ترا به خوب وينم (جمال) د عرفې په غونډۍ
وايي يو نيم چېرته داسې مرتبې ته رسي

***

## غزل

## ذاکر کوټوال

که وفا ده که جفا ده د ليکلو
د جانان هره وينا ده د ليکلو
د ظلمونو ملهمونو خزانه ده
ځکه يې هره ادا ده د ليکلو
زلزلې شي د بادونو سيلۍ راشي
دهشتناکه يې خندا ده د ليکلو
(شن) او (پ) او (س) يې درې واړه ښه جوړ دي
په کتاب کې يې ښکلا ده د ليکلو
د ذاکر کوټوال د تندر په شان ياره
ستا د خولې هره دعا ده د ليکلو

***

## ځواني لاړه

## - حفيظ مليار -

د يو خيال په طمع طمع ځواني لاړه
سوزيدلم لکه شمع ځواني لاړه
دا ژوندون خو په والله د سترګو رپ وه
سم چې زه پرې خبريدمه ځواني لاړه
سرمې سپين شو ګيره سپينه خوله کنډا سه
نور زهير شومه له تنه ځواني لاړه
کينه پرېږده بغض پرېږده مينه وکړه
را ترغاړې شه همدمه ځواني لاړه
د زړه درد مې درته وايم راته ژاړې
ژاړه ژاړه ای قلمه ځواني لاړه
په زړښت کې د ځواني خوندونه نه وي
زه ورځه د زړه مرحمه ځواني لاړه
زه حفيظ مليار د زړه زخمونه شمارم
وزګار نشومه له غمه ځوا ني لاړه

***

## مسافر

## (جاوېد احمدزی)

لمبو سوی يم په غاړه د ګور پروت يم
«د ايرو غونډې سپک شوی په اور پروت يم»
هم مې هلته هم مې دلته قدر نشته
يو د کفر بل د اسلام په تور پروت يم
پروت يم د غني جال کې وينې مې څښي
بېچاره يم، مسافر يم سر تور پروت يم
اې ګريوانه په اوښکو دې لمدومه
زه لکه شبنم ستا په نصيب خور پروت يم
ځواني مې د خارج کارونو وخوړه
لکه بې پلاره ماشوم په هر لور پروت يم
نه ګودر شته نه د پېغلو شورماشور شته
ډېر وخت نه ارمانجن د هغه شور پروت يم
احمدزي ته په پښتو ښکنځلې وکړئ
زړه کې به وايم چې اوس په خپل کور پروت يم